مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبر بری

۲۰۲۳/۰۱/۱۵

# هغه هر چانه را خپله

اخ چي څومره وه را گرانه
اوف چي څومره مي شوه هېره
هغه هر چانه را خپله
هغه هر چانه راتېره
*****
ما خو ويلي چي څو مځکه
لا د لمر پر مدار گرځي
تر هغو به مي دا زړه هم
بس د دي په نامه غورځي
*****
ما خو ويلي چي څو هسک کي
سترگکونه وهي ستوري
ترهغو به زما سترگي
هم د دي سترگو ته گوري
*****
ما خو ويلي که دا مځکه
شي له ښکلو نجونو ډکه
زه به خدای که بله يوه هم
کړمه زما د زړه ملکه
*****
ما خو ويلي که په ژوند کي
چيري نوم هم د وفا وي
نو مثال به يي دا زه يم
او خبره به يي زما وي
*****
ما خو ويلي که دا نه وي
نو به ژوند پر ما حرام وي
زما له دي سره آغاز ؤ
زما به دي سره انجام وي
*****
ما خو ويلي ما خو ويلي
ما خو دا وي، ما خو ها وي
ما خو ډېري غوټه کړي
زړه کي هيلي د سبا وي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

څه خبروم زه کمبخته
چي دا هسي ورځ به راشي
چي دا ټول خواږه خوبونه
تېر يادونه د پخوا شي
*****
او زه لرې ، له دې لرې
ځانته ګوښي جلا پايم
او چي کله را په يا د شي
په حسرت به ځانته وايم :
*****
- اخ چي څومره وه را ګرانه
اوف چي څومره مي شوه هېره
هغه هرچا نه را خپله
هغه هر چا نه را تېره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ